شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پړاو ۱۰۹۲ ګڼه / یکشنبه د محرم‌الحرام ۱۲مه ۱۴۴۸هـ.ق / د چنګاښ ۷مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جون ۲۸مه ۲۰۲۶ میلادي

ترکیې له افغانستان سره په اقتصادي برخه کې د همکارۍ تړونونه لاسلیک کړل

د بلخ د سوداګرۍ او پانګونې خونې رئیس محمد ابراهیم غضنفر د افغان سوداګریز پلاوي په مشرۍ د ترکیې–افغانستان د سوداګریزې شورا په غونډه کې ګډون او وینا کړې ده.

دغه غونډه د ترکیې په استانبول ښار کې د دواړو هېوادونو د سوداګرو، پانګوالو او د خصوصي سکتور د استازو په ګډون ترسره شوې ده.

د بلخ د سوداګرۍ او پانګونې خونې د خبرپاڼې له مخې، غضنفر د ترکیې له پانګوالو او صنعتکارانو غوښتي، چې د افغانستان په بېلابېلو برخو کې ګډې پانګونې وکړي.

په دې غونډه کې د افغانستان او ترکیې د اقتصادي بنسټونو ترمنځ یو شمېر د همکارۍ تړونونه هم لاسلیک شوي، چې د سوداګریزو اړیکو د پراختیا او د ګډو پانګونو د زیاتوالي لپاره مهم ګام بلل شوی دی.

دغه ناسته د ترکیې-افغانستان د ګډې سوداګریزې شورا د رئیس سلیمان جیلیو په مشرۍ او د استانبول لپاره د اسلامي امارت د سرکونسل محمد اکبر عظیمي په ګډون، د دواړو هېوادونو د سوداګرو او پانګوالو په حضور کې ترسره شوې ده.

د خوړو نړیوال پروګرام:

د افغانستان ۶۰ سلنه سوداګري د ایران له لارې ترسره کېږي

د خوړو نړیوال پروګرام (ډبیلو،اف،پي) په خپل تازه راپور کې ویلي: د پاکستان له لوري له افغانستان سره د ځینو سوداګریزو لارو له ترل کېدو وروسته، ایران د افغانستان د سوداګرۍ پر اصلي لارې بدل شوی او اوس د هېواد د وارداتو او صادراتو ډېره برخه د همدې هېواد له لارې ترسره کېږي. د راپور له مخې، دا مهال د افغانستان شاوخوا ۶۰ سلنه سوداګري د ایران له لارې ترسره کېږي، په داسې حال کې، چې د منځنۍ اسیا د رېل پټلۍ له لارې د وارداتو کچه هم د پام وړ لوړه شوې ده. د خوړو نړیوال پروګرام ویلي: سوداګرو د بدیلو لارو په کارولو سره د وارداتو او صادراتو بهیر نه دی درولی، خو دغه لارې د پخوا په پرتله اوږدې او لګښت یې زیات دی. د یاد سازمان په وینا، د ترانزیټي لارو د بدلون له امله د لېږد رالېږد لګښتونه لوړ شوي، چې ورسره په افغانستان کې د خوراکي توکو، د سون موادو او د کرنیزو توکو بیې هم لوړې شوې دي. یادې ادارې ټینګار کړی، چې د سوداګرۍ د لارو دوامداره پرانیسته او د ترانزیټي اسانتیاوو پراختیا د اکمالاتي ځنځیر د پیاوړتیا، د بازارونو د ثبات او د اړینو توکو د بیو د کنټرول لپاره مهم ارزښت لري.

د روان کال په لومړۍ ربع کې ۸۵۶۰ بهرنیو وګړو افغانستان ته تګ راتګ کړی

د احصایې او معلوماتو عمومي ادارې ویلي چې د ۱۴۰۵ ل کال په لومړۍ ربع کې یې د هوایي ډګرونو او ځمکنیو بندرونو له لارې هېواد ته د ۸۵۶۰ بهرنیو وګړو تګ او راتګ ثبت کړی دی. یادې ادارې زیاته کړې، ثبت شوي ارقام ښیي، چې په دغې موده کې د ۱۹۱ ښځینه‌وو په ګډون ۴۵۶۸ بهرني وګړي هېواد ته راغلي... ۳مخ

پنجشېر کې د کانونو د استخراج لپاره د جوازونو وېش پیل شو

د پنجشېر د کانونو او پټرولیم ریاست په دغه ولایت کې د ۶۶ ډوله کانونو د را اېستنې لپاره د جوازونو د وېش د پروسې د پیل اعلان وکړ. مسئولین وایي چې دا اقدام به د کانونو د فعالیتونو د پراختیا، د کار د فرصتونو رامنځته کولو او د اقتصاد د ودې لپاره لاره هواره کړي. د پنجشېر د کانونو او پټرولیم ریاست چارواکو خبر ورکړی، چې د نوي طرزالعمل پر بنسټ، په دغه ولایت کې د ۶۶ ډوله کانونو د را اېستنې لپاره ... ۲مخ

افغانستان کې د امریکا د جنګي جرمونو د څېړنو د مخنیوي په تړاو د ټرمپ پر ضد شکایت ثبت شو

د جرمونو د نړیوالې محکمې «ای‌سي‌سي» درېیو قاضیانو د امریکا د فدرالي محکمې د شکایت په ثبتولو سره ولسمشر ډونالډټرمپ په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د جنګي جرمونو په اړه د څېړنو په مخنیوي تورن کړی دی. دغو قاضیانو ویلي: ټرمپ د افغانستان او فلسطین د دوسیو د بیا کتنې په اړه... ۳مخ

آغاز روند توزیع مواد غذایی برای ۲۰۰۰ خانواده در غور

بنیاد خیریهٔ ملک سلمان، پادشاه عربستان سعودی‌به همکاری مؤسسه توحید، روند توزیع بسته‌های مواد غذایی را برای هزاران خانواده نیازمند در افغانستان، به‌ویژه در ولایت غور، آغاز کرده است. مسئولان مؤسسه توحید می‌گویند: این کمک‌های بشردوستانه به آسیب‌دیده‌گان رویدادهای طبیعی، بی‌جاشده‌گان داخلی، مهاجران بازگشته از ایران و پاکستان و خانواده‌های نیازمند توزیع می‌شود. زهیرالله زهیر، مسئول مطبوعاتی موسسه توحید هنگام توزیع این کمک‌ها گفت:« به حمایت مالی مرکز ملک سلمان و به همکاری تخنیکی موسسه توحید برای دو هزار خانواده بسته‌های مواد غذایی توزیع می‌شود که این مواد شامل ۵۰ کیلوآرد، پنج‌ونیم کیلو شکر، پنج کیلو لوبیا پنج... ص۳

سرمقاله

د ماشومانو د حقونو درواغجنې ټولنې او راپورونه یې!

د بشر د حقونو په نامه جوړې شوې نړیوالې ټولنې، بنسټونه او مؤسسې تل د افغانستان په اړه له حقیقت څخه لرې او یو اړخیز راپورونه خپروي. هر کله چې د افغانستان په اړوند ارزونې او راپورونه وړاندې کوي، خپل دوه‌مخیتوب او تعصب څرګندوي او نړیوالو ته داسې انځور وړاندې کوي، چې ګواکې په افغانستان کې د ښځو او ماشومانو وضعیت ډېر خراب دی، ماشومان په درنو او شاقه کارونو بوخت دي، له زده کړو محروم دي او پر حقونو یې ظلم کېږي. همدارنګه ادعا کوي چې ښځې له کار او زده کړو بې برخې دي او یا هم د ناامنۍ او ترهګرۍ په اړه بې‌بنسټه راپورونه خپروي.

دا ډول ادعاوې د دغو بنسټونو د تعصب، دوه‌مخیتوب او د حقایقو د پټولو څرګندې بېلګې دي. که د افغانستان اوسنی وضعیت د تېر له حالاتو سره پرتله شي، جوته به شي چې د ښځو ګڼ حقوق خوندي شوي، دوی د کار، سوداګرۍ او اقتصادي فعالیتونو فرصتونه لري، ماشومان په ښوونځیو او دیني مدرسو کې په زده کړو بوخت دي او هغو بېوزلو کورنیو ته چې سرپرست نه لري، د مرستو او ملاتړ پروګرامونه تطبیقېږي. همدارنګه یتیم او بې‌سرپرسته ماشومان په دارالایتامونو کې تر سالمې روزنې او پالنې لاندې ساتل کېږي.

د دغو بنسټونو منفي تبلیغات تر ډېره د اسلام او اسلامي نظامونو پر وړاندې د دوی د سیاسي او فکري دریځ پایله ده. که رښتیا هم د ماشومانو او بشري حقونو دفاع د دوی اصلي موخه وای، نو ولې د فلسطین د ماشومانو د روان ناورین په اړه چوپ پاتې دي؟ په فلسطین کې زرګونه ماشومان، ښځې او سپین‌ږیري د بمباریو او جګړو قرباني شوي، ښوونځي، مدرسې او روغتیایي مرکزونه ویجاړ شوي او میلیونونه انسانان له بېوزلۍ، لوږې او بې‌ځایه کېدو سره مخ دي. همدارنګه په هغو سیمو کې چې بې‌ګناه ښځې او ماشومان د بریدونو قرباني کېږي، ولې د دغو بنسټونو غږ نه اورېدل کېږي؟

که د ماشومانو وژل، د ښوونځیو او روغتونونو ویجاړول او د ملکي وګړو په نښه کول د بشر، ښځو او ماشومانو د حقونو نقض نه وي،...۳مخ

ایران له افغانستان سره په فرهنګي او سیاحتي برخو کې د دوامدارې همغږۍ ژمنه وکړه

د ایران سفیر علي‌رضا بیکدلي او په کابل کې د ایران کلتوري اتشې سید روح‌الله حسیني د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ګرځندوی، مالي او اداري چارو له معین مولوي قدرت‌الله جمال سره وکتل. ۳مخ

در پی سیلاب‌ها و رانش کوه در کشور ۵ تن شهید و خسارات گسترده وارد شد

مسئولان اداره آمادگی مبارزه با حوادث می‌گویند که در نتیجه طوفان، لغزش کوه و سرازیر شدن سیلاب‌ها در ۴۸ ساعت گذشته، در ۸ ولایت کشور ۵ تن از شهروندان جان باخته‌اند. به گفته حافظ محمد یوسف حماد، رئیس اطلاعات و نشرات و سخنگوی این اداره، در اثر این حوادث همچنان ۳۰ خانه و ۱۵ دکان به گونه قسمی تخریب شده و حاصلات ۲۲۲۵ جریب...ص۳

برگزاری مسابقه دوستانه کریکت میان افغانستان و ازبیکستان در خوست

کریکت بورد افغانستان اعلام کرده که تیم کریکت ازبیکستان در جریان رقابت‌های لیگ شپږیزه، در یک دیدار دوستانه ۲۰ آوره به مصاف... ص۳

سه تن به اتهام سرقت موترسایکل در هرات بازداشت شدند

وزارت امور داخله می‌گوید که سه تن در پیوند به سرقت شش عراده موترسایکل در ولایت هرات بازداشت شده و نیروهای امنیتی ۱۰ عراده موترسایکل مسروقهٔ دیگر را نیز کشف و ضبط کرده‌اند. وزارت امور داخله در صفحهٔ ایکس خود نوشته‌است که این سه تن روز جمعه در جریان عملیات کشفی منسوبان امنیتی حوزهٔ هفتم شهر هرات، به اتهام سرقت شش عراده موترسایکل بازداشت شده‌اند. به گفتهٔ این وزارت، افراد بازداشت‌شده در تحقیقات ابتدایی به جرم خود اعتراف کرده‌اند و دوسیه‌های‌شان برای طی مراحل قانونی به نهادهای عدلی و قضایی سپرده شده‌است. منبع افزوده‌است که این افراد پس از سرقت موترسایکل‌ها، با ...ص۳

لغمان کې ټرافیکي پېښې پنځو تنو ته مرګ ژوبله اړولې

د لغمان امنیه قوماندانۍ پر خپله اېکس‌پاڼه لیکلي، چې د یاد ولایت د الیشنګ ولسوالۍ د سایګل درې اړوند تاروو کلي کې د یو سوپر ډوله موټر د چپه کېدو له امله درېیو تنو ژوند بایللی او دوه نور ټپیان شوي دي. سرچینه لیکي: پېښه پرون سهار هغه مهال رامنځته شوې، چې یو سوپر ډوله موټر له سړک...۳مخ

د شریر ګاونډي په زړه کې د انساني کرامت نقض او د اپسټین د قضیې تکرار

۲

اعتراف نهادهای جهانی از دستاوردهای امارت اسلامی در مبارزه با مواد مخدر

۲

اعتراف نهادهای جهانی از دستاوردهای امارت اسلامی در مبارزه با مواد مخدر

فداءالحق

مواد مخدر از جمله مشکلات جدی اجتماعی و اقتصادی جهان به شمار می‌رود که نه تنها زندگی انسان‌ها را تهدید می‌کند، بلکه امنیت، اقتصاد و ثبات اجتماعی کشورها را نیز با خطر روبه‌رو می‌سازد. افغانستان که در چندین دهه گذشته به دلیل کشت کوکنار و تولید تریاک همواره در صدر خبرهای جهانی قرار داشت، در سال‌های اخیر، یعنی پس از بازگشت امارت اسلامی به قدرت، شاهد تغییرات بی‌سابقه‌ای در مبارزه با مواد مخدر بوده است. گزارش‌های اخیر نهادهای بین‌المللی و اعتراف برخی مقامات بلندپایه کشورهای جهان نشان می‌دهد که افغانستان در این بخش پیشرفت قابل توجهی داشته و سطح تولید و کشت مواد مخدر به گونه بی‌سابقه‌ای کاهش یافته است.

بر اساس گزارش اخیر سازمان ملل متحد، سطح کشت کوکنار در افغانستان از ۲۳۲ هزار هکتار در سال ۲۰۲۲ میلادی به حدود ۱۰ هزار و ۲۰۰ هکتار در سال ۲۰۲۵ کاهش یافته است. این رقم در عمل نشان‌دهنده کاهش حدود ۹۵ درصدی است که از نگاه نهادهای بین‌المللی یکی از سریع‌ترین تغییرات در تاریخ کنترول مواد مخدر به شمار می‌رود. این تغییر در حالی به وجود آمده است که افغانستان سال‌ها به عنوان بزرگترین مرکز تولید تریاک در جهان شناخته می‌شد، اما در سال‌های اخیر تغییر این وضعیت توجه کارشناسان بین‌المللی را به خود جلب کرده و آنان آن را نتیجه اقدامات سخت‌گیرانه و عملی در برابر مواد مخدر عنوان کرده‌اند.

بر اساس گزارش‌های دفتر مبارزه با مواد مخدر و جرم سازمان ملل متحد (UNODC) تولید تریاک در افغانستان نیز از ۶۲۰۰ تن به حدود ۲۹۶ تن کاهش یافته است. این ارقام نه تنها نشان‌دهنده تغییرات زراعتی است، بلکه به عنوان یک شاخص مهم تغییرات اقتصادی و اجتماعی نیز محسوب می‌شود. نمایندگان سازمان ملل در اظهارات خود گفته‌اند که افغانستان تا سال ۲۰۲۲ میلادی بزرگ‌ترین تولیدکننده هروئین در جهان بود، اما پس از بازگشت امارت اسلامی به قدرت، اقدامات جدی علیه کشت و تولید کوکنار صورت گرفت که نتیجه آن کاهش قابل توجه تولید بوده است. به گفته آنان، این تغییر بر ساختار بازار جهانی مواد مخدر نیز تأثیر گذاشته و در سطح عرضه تغییرات قابل ملاحظه‌ای ایجاد کرده است.

با این حال تنها سازمان‌های بین‌المللی نیستند که پیشرفت افغانستان را در مبارزه با مواد مخدر تأیید می‌کنند، بلکه برخی مقامات بلندپایه کشورها نیز در این زمینه دیدگاه مثبت ابراز کرده‌اند. سرگی شویگو، مقام روسی، نیز در یک نشست بین‌المللی اعتراف کرده است که امارت اسلامی تعهدات خود را در مبارزه با مواد مخدر عملی کرده و قاچاق مواد مخدر از خاک افغانستان تا ۹۰ درصد کاهش یافته است. این گونه اعترافات نشان می‌دهد که اقدامات ضد مواد مخدر در داخل افغانستان تنها تبلیغاتی نیست، بلکه نتایج عملی آن نیز از سوی نهادهای بین‌المللی تأیید شده است.

بی‌تردید امارت اسلامی در مبارزه با مواد مخدر گام‌های جدی برداشته و همچنان تلاش دارد تا کشت کوکنار را در کشور به صفر برساند. نکته مهم این است که نه تنها ما، بلکه تمام جهان مشاهده کرده‌اند که در مدت کوتاه، معتادان مواد مخدر از مناطق مختلف کشور جمع‌آوری شده و روند تداوی آنان در داخل کشور جریان دارد. مهم‌تر از آن، در کنار درمان، برای آنان آموزش‌های فنی و حرفه‌ای نیز فراهم شده است تا افراد بهبود یافته از اعتیاد با یادگیری یک حرفه یا مهارت، دوباره به گونه سالم به خانه‌های خود بازگردند و آینده خود را تعیین کنند.

مقامات امارت اسلامی تأکید می‌کنند که مبارزه با مواد مخدر تنها یک مبارزه امنیتی نیست، بلکه یک مبارزه اجتماعی، اخلاقی و اسلامی است. آنان می‌افزایند که این مبارزه مسئولیت مشترک تمام اقشار جامعه است و تنها وظیفه پولیس و قطعات خاص نمی‌باشد. به گفته آنان، در این زمینه عملیات گسترده‌ای انجام شده، شبکه‌های تولید و قاچاق مواد مخدر از بین برده شده و تلاش‌ها برای ایجاد معیشت بدیل در مناطق زراعتی ادامه دارد. مقامات تأکید می‌کنند که هدف این مبارزه تنها منع نیست، بلکه فراهم‌سازی زمینه برای رشد سالم جامعه است.

در نتیجه کاهش مواد مخدر، در مناطق روستایی تغییراتی در ساختار زراعت به وجود آمده است. مناطقی که پیش از این به کشت کوکنار مشهور بودند، اکنون به سوی کشت گندم، سبزیجات و سایر محصولات زراعتی قانونی روی آورده‌اند. با این حال، برخی چالش‌های اقتصادی نیز وجود دارد، زیرا برنامه‌های معیشت بدیل تاهنوز به طور کامل تطبیق نشده است. برخی دهقانان با مشکلات اقتصادی کوتاه‌مدت روبه‌رو شده‌اند، اما مقامات می‌گویند که برای حل درازمدت این مشکل برنامه‌ها در دست اجراء است.

به طور خلاصه، گزارش‌های سازمان ملل و اظهارات مقامات بین‌المللی نشان می‌دهد که افغانستان در سال‌های اخیر در مبارزه با مواد مخدر پیشرفت قابل توجهی داشته است. کاهش ۹۵ درصدی کشت کوکنار و کاهش بی‌سابقه تولید تریاک از دستاوردهای مهم این مبارزه به شمار می‌رود. در پایان نیز انتظار می‌رود که امارت اسلامی در آینده افغانستان را به گونه کامل از مشکل مواد مخدر رهایی بخشد و گام‌های بیشتری به سوی ایجاد یک جامعه سالم و باثبات برداشته شود تا نسل‌های آینده شاهد جامعه‌ای سالم و پاک از مواد مخدر باشند.

د شریر ګاونډي په زړه کې د انساني کرامت نقض او د اپستین د قضیې تکرار

محمد امین حیدري

ورمه ورځ د پاکستان د پلازمېنې اسلام‌آباد له یوې مهمې سیمې (چې د ایف-۷ په نامه یادېږي او د لومړي وزیر له کور سره په دوه کیلومترۍ کې موقعیت لري) څخه خپرو شویو وېډیوګانو او راپورونو په رسنیو کې پراخ غبرګونونه راوپارول. په دغو وېډیوګانو او راپورونو کې د انساني اعضاوو د ناقانونه سوداګرۍ، بشري قاچاق او ځینو نورو شکمنو فعالیتونو په اړه ادعاوې مطرح شوې دي. ویل کېږي چې په دغه مرکز کې د انسان د بدن د اعضاوو بېلابېلې برخې په ځانګړې توګه پلاسېنټا (هغه نرمه غوښه چې د ماشوم له زېږون وروسته له بدن څخه وځي او د حمل په دوران کې د مور او ماشوم ترمنځ د تغذیې د انتقال دنده ترسره کوي) هم په زیاته کچه موندل شوې ده.

په دغې قضیه کې ګڼ شمېر پاکستانیان او څو چینایي وګړي هم ښکېل بلل شوي. د یادونې وړ ده چې یاد مرکز د پاکستان د لومړي وزیرد کور ترڅنګ موقعیت لري او د پاکستان پارلمان هم هلته نږدې دی. که څه هم د دې ادعاوو بشپړ حقیقت لا هم د رسمي څېړنو او قضایي بهیر تر ارزونې لاندې دی، خو د دغو راپورونو خپرېدل په خپله د انساني کرامت د نقض او د ټولنې د وجدان د ټپي کېدو په اړه جدي اندېښنې راولاړوي.

نن ورځ پاکستانی پوځي رژیم او ورسره ډېر سیکولر هېوادونه ځانونه د بشري حقونو، ازادۍ او تمدن ستر مدعیان بولي، خو وخت ناوخت همدغو ټولنو کې داسې رسوایۍ راڅرګندېږي چې د دوی د شعارونو او عملي واقعیت تر منځ ژور واټن څرګندوي. د انساني قاچاق، د انساني اعضاوو سوداګري، د بېوزلو او کمزورو خلکو استثمار او ورته جرمونه هغه تور واقعیتونه دي چې د بشریت پر تندي تور داغ بلل کېږي.

پاکستان چې له اوږدې مودې راهیسې پکې پوځي او استخباراتي بنسټونه په سیاسي او ټولنیزو چارو کې پراخ نفوذ لري، هره لویه رسوایي پکې د خلکو شکونه او پوښتنې زیاتوي. خلک پوښتي چې که امنیتي او دولتي اداري دومره پراخ امکانات، صلاحیتونه او استخباراتي شبکې لري، نو ولې د داسې خطرناکو فعالیتونو مخه نه نیول کېږي؟ ولې دا ډول قضیې تر ډېره هغه وخت راڅرګندېږي چې د ولس او رسنیو پام ورته واوړي؟

له بلې خوا، د نړۍ په کچه د جفري اپسټین قضیه د معاصر تاریخ له هغو شرموونکو قضیو څخه ده چې د ځواک، نفوذ او قانون ترمنځ د اړیکو په اړه یې ګڼې پوښتنې راولاړې کړې. دغې قضیې وښودله چې کله ناکله بانفوذه او ځواکمن کسان کولای شي د اوږدې مودې لپاره له حساب ورکولو څخه ځان وژغوري. همدې مسئلې د هغو نظامونو د عدالت او شفافیت په اړه هم بحثونه راپورته کړل چې ځانونه د بشري ارزښتونو او د قانون د حاکمیت مدافعین معرفي کوي.

اسلام انسان ته د الله تعالی د مکرم او محترم مخلوق په سترګه ګوري. قرآنکریم د انسان د ژوند، عزت، مال او شخصیت ساتنې ته ځانګړی ارزښت ورکړی دی. حتی د مړي د جسد حرمت هم په اسلام کې خوندي ګڼل شوی دی. له همدې امله هر هغه عمل چې انسان د سوداګرۍ، استثمار او شخصي ګټو وسیله وګرځوي، د اسلامي لارښوونو له مخې د انساني کرامت خلاف او سخت ناروا عمل دی.

اړتیا او حللاره

نن ورځ د نړۍ ټولو ولسونو، په ځانګړي ډول مسلمانانو ته، اړینه ده چې د انساني کرامت د ساتنې موضوع جدي ونیسي. هېڅ نظام او حکومت باید یوازې د شعارونو او ادعاوو پر بنسټ ونه ارزول شي، بلکې د عدالت، شفافیت، د کمزورو د حقونو د خوندیتوب او د قانون د عادلانه تطبیق له مخې باید پرې قضاوت وشي.

د هرې ادعا بې‌طرفه او شفافه څېړنه باید وشي، هر مجرم باید د قانون منګولو ته وسپارل شي او هېڅ فرد، اداره یا ځواکمنه کړۍ باید ځان له قانون پورته ونه ګڼي. تر هغې چې په عملي ډول د انسان عزت، امنیت او کرامت خوندي نه شي، د تمدن، پرمختګ او بشري حقونو شعارونه به یوازې تش الفاظ پاتې شي.

د بشریت رښتینی خدمت دا دی چې انسان د استثمار، سوداګرۍ او ظلم له سپک حالت څخه وژغورل شي او خپل اصلي انساني مقام ته ورسېږي. یاد مقام ته هغه وخت رسېدلی شي چې پر نړۍ د الله تعالی نظام قایم شي، ځکه هر هغه څیز چې د چا په لاس جوړ شوی وي؛ هغه یې په استعمال او جوړېدو له هر چا ښه پوهېږي. نو دا ځمکه او انسانان الله تعالی جوړ کړي او هماغه ذات د دې ځمکې د امن لپاره قانون او رهنما رالېږلی دی چې هغه اسلام او قران دی، کله چې اسلامي نظام قایم شي او ټولې فیصلې په قران وشي، نو په خپله به دا ټول سیستم جوړ شي.

پنجشېر کې د کانونو د استخراج لپاره...

د جوازونو د ورکولو پروسه پیل شوې ده. د پنجشېر د کانونو او پټرولیم ریاست مشر مولوي محمد قاسم امیري ویلي، چې پخوا یوازې په پنجشېر کې د زمردو او یاقوتو د را اېستنې اجازه وه، خو اوس د نویو مقرراتو په پلي کېدو سره، د لسګونو نورو ډوله کانونو د را اېستنې لپاره د جوازونو ورکول ممکن دي. د ده په وینا، د فیروزې او شنه ګارنټ استخراج اوس مهال په پنجشېر کې روان دی او په ورته وخت کې، د نورو کانونو د زېرمو د سروې، پېژندنې او تأیید پروسه دوام لري. ده زیاته کړې: هر هغه منرال چې د تخنیکي مطالعاتو او د هغو د قانوني پړاوونو له بشپړېدو وروسته پېژندل کېږي د استخراج جواز به ترلاسه کړي. امیري یادونه وکړه چې په دې پلان کې شامل شوي منرالونه قېمتي او نیمه قېمتي ډبرې لکه فیروزه، لاجورد، فلورایټ، پخراج، افغاني، عقیق، نیلم، سره بیرل، مرغلره، شنه ګارنټ، بیرل او یو شمېر نور منرالونه شامل دي. ده دا هم ویلي چې اوس مهال شاوخوا ۲۰۰ کسان په مستقیم او غیر مستقیم ډول د بیرل او شنه ګارنټ کانونو کې کار کوي او د کانونو د فعالیتونو پراختیا کولی شي د پنجشېر د اوسېدونکو لپاره ډېر کاري فرصتونه رامنځته کړي. پنجشېر یو له هغو ولایتونو څخه دی چې په افغانستان کې د قېمتي ډبرو او نورو منرالونو بډایې زېرمې لري.

نشنلیزم (قوم پرستي) باید وپېژنو!

لومړۍ برخه / ترتیب او زیاتونه: - محمد منیر محصل

راځئ چې نشنلیزم وپېژنو او په اړه یې ځان پوه کړو، چې دا نشنلېزم له کومه شو؟ هدف یې څه ؤ او څه دی؟ ولې دا ناسور مسلمه امت ته انتقال شو او ایا د اسلام مبارک دین ورسره منافات لري او که نه...؟!

له هغو ډېرو مهمو موضوعاتو څخه، چې له فکري یرغل او د یهودو له ناروا نعرو سورو سره ټینګه اړیکه لري، یوه هم د ملیت پرستۍ (نشنلېزم) موضوع ده، چې زیاتره مسلمانان یې ګمراه کړل، نو راځئ چې په دې ځان پوه کړو، چې قوم پرستۍ په ټولنه کې څنګه تبارز وکړ؟ څنګه یې وده وکړه؟ دا نظریه څنګه خپره شوه؟ اهداف یې څه وو؟ او ولې دا قوم پرستان د اسلام په نامه غږ نه پورته کوي؟

د همدې ملحوظاتو په نظر کې نیولو سره پر هر مسلمان دا لازمه ده، چې د هغو مصیبتونو ټول علل او عوامل وپېژني، چې د پردیو له خوا رامنځته شوي او هم باید په دې ځانونه پوه کړو، چې د اسلام د دښمنانو له دې کړنو هدف او مقصد څه شی و، چې مسلمانان یې ورسره لاس او ګرېوان کړي؟ او په مسلمانانو لازمه ده چې د قوم پرستۍ ترکیبي عناصر وپېژني او ترڅنګ یې د رد دلایل هم زده کړي.

همدارنګه، په دې پټ راز باید مسلمانان ځانونه خبر کړي، چې د نشنلیستانو مقصد په دې کې څه دی چې د اسلام پر ځای یې ملت غوښتنه خوښه کړې او له دې نیمګړې مفکورې یې خپل دین او آیین جوړ کړی؟ او په دې باید ځان پوه کړو، چې همدا نشنلیستان ولې له مسلمانانو څخه کرکه لري؟ او ولې همدا ملت پال دین له سیاست څخه جدا کول غواړي؟ دوی له اسلام څخه کوم خطر محسوسوي او په قوم پالنه کې څه ګټه ویني چې کلک ورپسې نښتي دي؟

ځینې نورې خبرې هم شته، چې باید لږ اشاره ورته وشي او ځان باید پرې پوه کړو، چې په اسلام کې د غیر مسلمو اقلیتونو څه حقوق تاکل شوي، چې باید ورته ورکړل شي؟ او هم باید په هغه چارچلن ځانونه پوه کړو، چې له غیر مسلمو اقلیتونو سره باید څنګه چلند وشي؟ او په دې هم باید پوه شو، چې د قومیت او ملیت پرستۍ پر وړاندې د اسلام موقف څه دی؟ ناسیونالیزم ولې له اسلام سره په ټکر کې دی؟ له دې مقدماتي او تمهیدي خبرو څخه مو هدف دا ؤ، چې په راتلونکو لیکنو کې د خپلو ټولو پوښتنو ځوابونه ومومو. اوس راځو په خپلې اصلي موضوع خبرې کوو.

۱- په اسلامي نړۍ کې نشنلیانو(قوم پرستانو) څنګه ځای وموند؟

د نشنلېزم میکروب هغه وخت د مسلمانانو په منځ کې ځای پیدا کړ، چې د عربو په خاوره کې د غاصبو او ټګمارو یهودو ټولنه رامنځته شوه او د خپلو صهیونیستي اهدافو د عملي کولو لپاره یې هلې ځلې شروع کړې، تر څو وکولای شي له همدې لارې بیت المقدس او فلسطین خپل کړي او د مسلمانانو په منځ کې لاسوهنه وکړي او اتفاق یې له منځه یوسي.

دا داسې وخت ؤ، چې اسلام عملاً د مسلمانانو په منځ کې نافذ او اسلام پر عربي نړۍ حکومت کاوه او اسلامي خلافت په اصلي بڼه قایم ؤ. تر همدې وخته د قومیت موضوع د مسلمانانو په منځ کې هېڅ مطرح نه وه، که چېرې مطرح کېده هم یوازې د (لتعارفو) پېژندګلوي تر حده وه، نه په بله معنی.

وروړګلوي او برابري د مسلمانانو ترمنځ شعار ؤ. خپلمنځي الفت او محبت بې امتیازي صفت ؤ. د یو بل مرسته، په حق او صبر توصیه له ورځنیو معمولاتو څخه وو. په هغه وخت کې مسلمانانو خپل خیر د نورو په خیر کې لټاوه او د یو بل په درد دردمنېدل او ټول د یو بدن په څېر وو.

دغه بدبختي هغه وخت مسلمانانو ته ورپېښه شوه، چې کله یهودو د عثماني خلافت په اواخرو کې د (سالونیک) په ښار کې د (محفل الشرق العثماني) په نامه یو مجلس جوړ کړ او په دې مجلس کې مشهورو او پېژندل شویو بډایو خلکو ګډون کړی ؤ.

د یهودو لومړی پلان داسې پیل شو، چې د دوی د ماسوني ګوند له ټولو بډای مشر (قره صو) د عثماني خلافت وروستي سلطان عبدالحمید ته د یهودو د استازي په توګه واستول شو او د سلطان دربار ته د وروستلو لپاره یې واسطه د (عارف بېګ) په نامه شخص شو. کله چې قره صو د سلطان دربار ته ورغی په صراحت سره یې دا خبره وکړه، چې زه د ماسوني استازی یم او ستاسو دربار ته را استول شوی یم.

ما ستاسو شخصي خزانې ته پنځه میلیونه طلایي لېرې راوړي او ستاسو بیت المال ته مې سل میلیونه طلایي لېرې بغیر له کومې ګټې(سود) څخه د قرض په ډول راوړي، په دې شرط چې موږ ته په فلسطین کې څه امتیازات راکړئ. د دې خبرو په اورېدو سره د سلطان عبدالحمید د مخ بڼه بدله شوه، په ډېر قهر او غوسه یې عرفان بېګ ته مخ وروااړاوه او ورته ویې ویل: ایا ته پوهېږې چې دغه خنزیر څه غواړي؟ بیا یې په ډېر لوړ او غضبناک اواز دغه استازي ته وویل: ووځه ای سپکه او ذلیله! قره صو په داسې حالت کې له دربار څخه ووت، چې ډېر ذلیل او سپک شوی و او سیده ایټالیا ته ولاړ او له هغه ځایه یې سلطان ته لیک راواستاوه، چې په کې لیکلي یې ؤ: تا خو زما عرض مسترد کړ، خو دا مستردېدل به تا او ستا هېواد ته ډېر لوړ تمام شي...!

له هغه وروسته یو بل یهودي استازی د (هرتزل) په نامه چې یو یهودي عالم د (موسی لیفي) په نامه هم ورسره ؤ، د سلطان عبدالحمید دربار ته ورغی او په ډېره عاجزۍ او اصرار یې له سلطان څخه غوښتنه وکړه، چې فلسطین پر موږ خرڅ کړي، په بدل کې یې چې هر څومره قېمت غواړئ، درکوو یې.

سلطان عبدالحمید رحمه الله تعالی څه ښه ځواب ورکړ: فلسطین هغه ځمکه ده، چې د مسلمانانو په وینه اخیستل شوې او هغه نشي خرڅېدلی، مګر په هماغه قېمت. له همدې ځایه یهودیان او ماسونیان له خپلو طرحو او منصوبو څخه مایوسه شول او د فلسطین خاورې د خپلولو لپاره یې پر چل ول لاس پورې کړ. کومه دسیسه چې یهودو د فلسطین د لاس ته وروړلو لپاره جوړه کړې وه، هغه (ماسوني) ډلې منځته راوړه او د عمل جامه یې ورواغوسته. ماسوني ډله څنګه خلک وو، څه یې غوښتل او چا جوړه کړې وه؟

په همدې اړوند نور معلومات بله لیکنه کې...

افغان اعلانات

اطلاعیه لیلام ۱۵ قلم اجناس داغمه جات

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه میخواهد ۱۵ اقلام اجناس داغمه خویش رابه تاریخ ۱۱/٤/۱٤۰۵ لیلام نماید شرکت ها، اشخاص و افراد یکه خواهان خریداری آنرا داشته باشند به تاریخ فوق الذکر ساعت ۹ بجه قبل ازظهر به شرکت هوخست پهلوی شفا خانه هزار بستر معتادین واقع ناحیه نهم مراجعه و به مجلس داوطلبی اشتراک نمایند.
۱۵٪ فیصد پول نقدآ اخذ می‌گردد.

***

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، ریاست کابل برشنا در نظر دارد تا قرارداد پروژه تهیه و تدارک تجهیزات برقی و امور ساختمانی برق احمد شاه بابا را تحت شماره کابل برشنا- ۱٤۰۵- داوطلبی باز ملی داخلی- اجناس- ۰۳ با شرکت تجارتی صفی الله روشن افغان دارنده جواز نمبر ۷۱۰۰٤ و با داشتن محل اصلی تجارتی} پل محمود خان مرکز، کابل افغانستان} را به مبلغ ۱۵۲۳۲۳٤ یک میلیون پنج صدو بیست سه هزارو دوصدو سی و چهار افغانی اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست کابل برشنا - چمن حضوری- ناحیه هشتم - کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

موضوع: اعلان دعوت به داوطلبی

کابل برشنا شرکت از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی(تهیه و تدارک اجناس برقی و مواد ساختمانی اصلاح سرک های ٤۰۰ ولت برج برق قلعه غیبی مدیریت جنکشن سوم) دارای کود نمبر(کابل برشنا-۱٤۰۵-دواطلبی - باز ملی داخلی- اجناس- ۰۲۷) اشتراک نموده و نقل شرطنامه را به شکل سافت در حافظه یا فلش دسک از مدیریت تدارکات کابل برشنا و سایت د افغانستان برشنا www.main.dabs.af بدست آورده ،آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ۱٤۰۵/۰۵/۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر به ریاست کابل برشنا واقع چمن حضوری شهر کابل ارایه نمایند آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمیباشد .

۱- تضمین افر: قابل تطبیق نبوده و فورم اظهارنامه تضمین آفر خانه پری گردد.
۲- توانایی مالی: مبلغ ۲۳۰,۰۰۰ دو صد و سی هزار افغانی.
۳- آفر گشایی: جلسه آفر گشایی روز یک شنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱٤۰۵/۰۵/۰٤ برگزار میگردد.
۴- آدرس و محل جلسه آفر گشایی : منزل اول صالون قرارداد های ریاست کابل برشنا.
۵- آدرس اداره : کابل برشنا چمن حضوری ناحیه هشتم کابل افغانستان.

برای معلومات بیشتر به شماره ذیل تماس گیرید.
شماره تماس: ۰۷۲۸٦٤۸۰٤۱
آدرس الکترونیکی : shekib.sediqi@kbd.dabs.af

***

اطلاعیه تغییر مکان رهنمای معاملات

دفتر رهنمای معاملات ارمان سبز به اسم محترم زلمی فرزند محمود خان ولدیت سمیع خان واقع مقابل دروازه گارد ناحیه ۱۵ موقعیت دارد و میخواهد به ساحه سرک کابل بگرام مقابل ناحیه ۱۹ شاروالی ناحیه ۱۸ شاروالی کابل نقل مکان نماید . بناء مراتب به آگاهی شما رسانیده شد.۳۰۲۸

***

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

ریاست معارف ولایت لوگر میخواهد در سال مالی ۱۴۰۵ از تخصیص دست داشته خویش پروژه ترمیمات ۸ باب مکاتب و تعمیرات اداری ریاست معارف ولایت لوگر را طور قرار داد ترمیم نماید. شرکت ها و موسسات واجد شرایط که خواهش قرار داد آنرا داشته باشند بعد از نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز تقویمی به مدیریت عمومی تهیه و تدارکات ریاست معارف لوگر حاضر شوند شرطنامه را ملاحظه کرده تضمین نقدا اخذ می شود.۳۰۰۸

***

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز تشبث زارعت و مالداری امیل عمر نمبر ۴۹۷۵۵ به اسم شکلا بنت هارون مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۳۰۲۹

***

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم هوسی ارمان فرزند خان محمدمفقودگردیده‌ازاعتبارساقط می‌باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم پلوشه ارمان بنت ممتاز مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد الله شریفی فرزند حاجی محمد شریف مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم لیاقت قاسمی فرزند حسن رضا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زینب بنت ولی رحمان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زرمینه بنت محمد ظریف مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سلیم فرزند بریالی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خواجه محمد علمیار فرزند میاخیل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم در محمد محمدی فرزند تاج محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالوارث غیرت فرزند عبدالواحد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فاطمه ترکمن بنت عبدالحمید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عباس حسنی فرزند رمضان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم صدیقه حیدری بنت غلام سخی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سارا بنت رفیق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جمین درویش فرزند دور محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۶۲۰۳

وزير محمد اکبر خان روغتون ته ګڼ شمېر طبي...

د بېلګې په توګه، پخوا یوازې دوه الکټروکوټري ماشینونه موجود وو، خو اوس پنځه نور هم پېرودل شوي او دا ستونزه په بشپړه توګه حل شوې ده. دغه ماشینونه د عملیاتو پر مهال د وینې د کنټرول لپاره ډېر مهم دي. همداراز، د عملیات‌خونو لپاره نوي څراغونه پېرودل شوي، چې د هر یوه بیه ۱۴۰ زره افغانۍ ده.
د مړو د ساتنې لپاره ۲۷ یخچالونه، چې مخکې غیر فعال وو، ترمیم او بېرته فعال شوي دي. د عنایت په وینا، د ریکورۍ ځانګې لپاره اړین وسایل، طبي ماشینونه او د ناروغانو بسترونه ترمیم او نوي شوي دي. د روغتون پاکوالي او د میکروبونو د مخنیوي لپاره ځانګړې پاملرنه شوې ده. د پایوازانو لپاره د زنګ وهلو نوی سیستم فعال شوی او داسې یو سیستم د جوړېدو په حال کې دی، چې له مخې یې ناروغانو ته ټول اړین خدمتونه د روغتون د کارکوونکو له لوري وړاندې کېږي. همدارنګه، د اړتیا پر مهال د پایوازانو د غوښتلو لپاره د لاوډسپیکر مجهز سیستم هم فعال شوی دی. ده زیاته کړه، چې د روغتون د اوبو رسولو سیستم ښه شوی او د پاکو اوبو فلټرونه پېرودل او نصب شوي دي. پخوا په روغتون کې یوازې یوه ځا موجوده وه، خو اوس دویمه ځا هم له ټولو اړینو وسایلو سره فعاله شوې ده. نوموړي وویل: د روغتون لپاره منظمې داخلي او بهرنۍ لوحې، د طبي پرسونل لپاره عصري الماري او فلزي کثافت‌دانۍ نصب شوي، د عاجلې برخې او وارد ترمنځ ساحه رغول شوې او له ۲۰ څخه زیاتې خونې ترمیم او رنګ شوې دي.
د روغتون رئیس زیاته کړه، چې د پایوازانو لپاره د ناستې او استراحت مناسب ځای جوړ شوی او یو منظم دوه پوړیز تعمیر ورته ځانګړی شوی دی. ده وویل: په راتلونکي کې د تروما مرکز او د عصبي جراحۍ ځانګې د فعالولو پلان لرو. د روغتون د پراختیا لپاره کارونه په چټکۍ روان دي او یوه ودانۍ، چې ۶۰ سلنه چارې یې بشپړې شوې دي، هڅه کېږي پاتې کارونه یې هم ژر بشپړ شي. د دغې ودانۍ په فعالېدو سره به د روغتون ډېرې ستونزې هوارې شي. نوموړي له ټولو هېوادوالو وغوښتل، چې د روغتون پاکوالي او ساتنې ته ځانګړې پاملرنه وکړي او له ډاکټرانو او روغتیایي کارکوونکو سره ښه چلند وکړي. بل پلو ناروغانو او پایوازانو شریعت ورځپاڼې ته ویلي، چې په یاد روغتون کې روغتیایي او درملیز خدمات د پخوا په پرتله ښه شوي او د ناروغانو ستونزو ته پر وخت رسېدنه کېږي. بله خوا د روغتون مسئولین وایي: شپه او ورځ هېوادوالو ته خدمات وړاندې کوي او په راتلونکي کې پلان لري چې وزیر محمد اکبر خان روغتون پر یوه معیاري او نړیوال کمپلکس روغتون بدل کړي.
د کندهار ولایت یو ناروغ، محمد علي وایي چې د روغتون له رهبرۍ خوښ دی. د ده په وینا، د روغتون رئیس هره ورځ د بېلابېلو برخو څارنه او د ناروغانو ستونزو ته پر وخت رسېدنه کوي. د روغتون متخصص، ډاکټر حسیني الله بارک هم وویل: «د نوي رئیس په راتګ سره د روغتون ټولو برخو ته ځانګړې پاملرنه شوې ده.» د ده په وینا، په ځانګړي ډول د عملیات‌خانې ډېر وسایل نوي شوي او ډاکټران خپل مسئولیتونه په ښه توګه ترسره کوي.

سمیع الله مومند

د ماشومانو د حقوقو درواغجنې ټولنې ...

نو بیا څه شی د دوی د حقونو نقض بلل کېدای شي؟ د نړیوالو بشري حقونو د مدعیانو دغه چوپتیا او انتخابي چلند دا پوښتنه راولاړوي چې آیا دوی رښتیا هم د بشري ارزښتونو دفاع کوي او که یوازې د خپلو سیاسي موخو لپاره له دغو شعارونو څخه ګټه اخلي؟
ورمه ورځ یوې هالنډۍ مؤسسې د هغو هېوادونو په اړه یو راپور خپور کړ چې ګواکې ماشومان پکې په درنو او شاقه کارونو بوخت دي. په دغه راپور کې د ۱۹۴ هېوادونو نومونه شامل وو او افغانستان یې په وروستي، یعنې ۱۹۴یمه شمېره کې راوستی و. د دې راپور له مخې داسې انځور وړاندې شوی و، چې ګواکې په افغانستان کې د ماشومانو وضعیت د نړۍ د ټولو هېوادونو په پرتله خراب دی او د دې وضعیت پړه یې هم پر اوسني نظام اچولې ده.
د اسلامي امارت مرستیال ویاند دغه راپور په بشپړ ډول له حقیقت څخه لرې بللی او ټینګار یې کړی چې د ماشومانو د خوندیتوب، هوساینې او ملاتړ لپاره عملي او اغېزمن ګامونه اخیستل شوي دي. د ده په وینا، د روغتیا، زده کړو او ټولنیز ملاتړ په برخو کې ماشومانو ته ځانګړې پاملرنه کېږي او د ماشومانو د درنو او شاقه کارونو د مخنیوي قوانین په جدي ډول عملي کېږي. نوموړي زیاته کړې چې اړوندې ادارې د ماشومانو د حقونو د تأمین لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي او د افغانستان د ماشومانو وضعیت باید د هېواد د واقعي شرایطو او میداني حقایقو پر بنسټ وارزول شي، نه د هغو راپورونو له مخې چې له واقعیتونو سره سمون نه لري.
په ټوله کې، د افغانستان په اړه د ځینو نړیوالو مؤسسو او بنسټونو یو اړخیز او غیرواقعي راپورونه نه یوازې د حقیقت له انعکاس څخه لرې دي، بلکې د سیاسي موخو او تعصبي لیدلورو ښکارندويي هم کوي.
د ماشومانو او بشري حقونو په اړه رښتینې ارزونه هغه مهال ممکنه ده چې د ټولو هېوادونو وضعیت په یوه معیار و ارزول شي او له دوه‌ګونې چلند او سیاسي ملاحظاتو څخه ډډه وشي.

ایران له افغانستان سره په فرهنګي او سیاحتي برخو کې...

د دې لیدنې موخه د افغانستان او ایران ترمنځ د سیاحتي همکاریو پراختیا، د دواړو هېوادونو د سیلانیانو لپاره د لا ډېرو اسانتیاوو برابرول، د سفر، زیارت، درملنې او زده‌کړو بهیر اسانه کول، د ګډو فرهنګي پروګرامونو پراختیا او د دوه اړخیزې همغږۍ له لارې د سیلانیانو د تګ راتګ زیاتول وو.
په پیل کې مولوي قدرت‌الله جمال وویل: افغانستان او ایران له ښو او دوستانه اړیکو برخمن دي، د سیاحت، درملنې، زده‌کړو او د کربلا زیارت کوونکو لپاره د ټرانسپورټ په برخو کې دې اړینې اسانتیاوې برابرې شي.
ښاغلي جمال د ایران له سفیر څخه وغوښتل چې ایران دې د خپلو تجربو په اساس د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ګرځندوی او هوټلدارۍ انستیټیوټ د استادانو لپاره د روزنیزو او علمي سیمینارونو زمینه برابره کړي، ترڅو دوی د مجربو استادانو له علمي تجربو او لاسته راوړنو څخه ګټه واخلي.
د ګرځندوی، مالي او اداري چارو معین زیاته کړه، چې د لازمو اسانتیاوو د برابرولو په موخه به د ګډو همکاریو د پراختیا لپاره یو هوکړه لیک جوړ او د دواړو لورو له خوا به لاسلیک شي.
په کابل کې د ایران سفیر علي‌رضا بېکدلي وویل: افغانستان او ایران ژور دیني، فرهنګي او تمدني مشترکات لري. نوموړي د دوه‌اړخیزو همکاریو د پراختیا پر اهمیت ټینګار وکړ او په سیاحتي او زیارتي برخو کې یې د لا زیاتو اسانتیاوو د برابرولو داډ څرګند کړ. ښاغلي بېکدلي زیاته کړه، چې د دواړو دوستو او ورونو هېوادونو د تجربو شریکول به د سیاحت صنعت د ودې او پراختیا زمینه برابره کړي.
همداراز په کابل کې د ایران سفیر وویل: د دواړو هېوادونو د اړوندو ادارو په همغږۍ به په افغانستان او ایران کې د ګرځندوی او هوټلدارۍ انستیټیوټ د استادانو لپاره ځانګړي روزنیز سیمینارونه جوړ شي، چې تدریس به یې ایراني استادان کوي.
په پای کې دواړو لورو په فرهنګي او سیاحتي برخو کې د ګډو همکاریو پر پراختیا ټینګار وکړ او په یادو برخو کې یې د دوامدارې همغږۍ او د دوه‌اړخیزو اړیکو د پیاوړتیا ژمنه وکړه.

برگزاری مسابقه دوستانه کریکت میان افغانستان...

تیم «افغان ایلېون» خواهد رفت. قرار است این مسابقه روز ۱۰ جولای در میدان ورزشی رحمت ولی مسرور خوست برگزار شود و از سوی شماری از شبکه‌های تلویزیونی و رسانه‌های دیجیتالی به‌گونه زنده پخش شود.
این دیدار در چارچوب توافق همکاری میان بورد کریکت افغانستان و فدراسیون کریکت ازبیکستان برگزار می‌شود؛ توافقی که با هدف توسعه و حمایت از کریکت میان دو طرف به امضاء رسیده است.
نصیب‌خان، رئیس اجرایی بورد کریکت افغانستان می‌گوید که این اداره متعهد به حمایت از کشورهای نوظهور کریکت، از جمله ازبیکستان بوده و در راستای انتقال تجربه و ارتقای ظرفیت‌های فنی با این کشور همکاری می‌کند.
وی ابراز امیدواری کرده که گسترش همکاری‌های ورزشی، به‌ویژه در بخش کریکت، به تحکیم روابط میان افغانستان و ازبیکستان کمک کند. کریکت بورد افغانستان همچنان گفته که جدول بازیکنان تیم «افغان ایلېون» در وقت مناسب اعلام خواهد شد.

بغلان کې د بورې تولید د زیاتولو لپاره...

لپاره د کار او عاید فرصتونه هم رامنځته کوي. د دوی په باور، که د لبلبو کښت نور هم پراخ شي، نو د بورې صنعت د ودې او د هېواد د کرنیزو تولیداتو د زیاتوالي لپاره به مهمه زمینه برابره شي.

کابل کې ۵۱ جریبه ځمکه د کور او ښار جوړولو وزارت...

ترسره شو. یاد انتقال د اړوندو مسئولینو ترمنځ د رسمي هوکړه لیک له مخې ترسره شو، چې موخه یې د ښار جوړولو د منظمې پراختیا، د استوګنیزو اړتیاوو پوره کول او د ښاري پراختیایي پروژو پیاوړتیا ده.
د کور او ښار جوړولو وزارت د دې اقدام هرکلی کوي او ټینګار کوي، چې د یادو ځمکو په ترلاسه کېدو سره به د معیاري ښارګوټو او استوګنیزو بلاکونو د جوړولو چارې د نافذه تخنیکي او حقوقي اصولو مطابق پر مخ یوړل شي.

کار یک پروژه بزرگ انکشاف ...

این پروژه یکی از گام‌های مهم در راستای توسعه شهری هرات به شمار می‌رود که انتظار می‌رود نقش مؤثری در بهبود ترافیک و ارتقای نظم شهری ایفا کند.

سه تن به اتهام سرقت موتر...

دست‌کاری اسناد و تغییر شاسی‌نمبر، آن‌ها را به فروش می‌رساندند. وزارت امور داخله همچنین گفته‌است که نیروهای امنیتی حوزهٔ هفتم در ادامهٔ عملیات‌های خود ۱۰ عراده موترسایکل مسروقهٔ دیگر را نیز از بخش‌های مختلف این حوزه کشف و ضبط کرده‌اند. براساس معلومات منبع، موترسایکل‌های کشف‌شده پس از تثبیت مالکیت و بررسی اسناد قانونی، به مالکان اصلی آن‌ها سپرده خواهد شد.

لغمان کې ټرافیکي پېښې...

څخه واوښت او چپه شو. د سرچینې د معلوماتو له مخې، پېښه د موټر چلوونکي د بې‌احتیاطۍ له امله رامنځته شوې او ټپیان د درملنې په موخه د مهترلام ولایتي روغتون ته لېږدول شوي دي.

در پی سیلاب‌ها و رانش کوه...

زمین زراعتی و ۲۹۵ رأس مواشی نیز از بین رفته است. وی افزوده است که در مجموع ۱۹۹ خانواده در نتیجه این رویدادهای طبیعی متضرر شده‌اند. سخنگوی اداره آمادگی مبارزه با حوادث همچنین گفته است که از آغاز ماه حمل سال جاری تا اکنون، در نتیجه حوادث طبیعی در کشور ۳۱۴ تن جان باخته و ۳۹۷ تن دیگر زخمی شده‌اند.

آغاز روند توزیع مواد غذایی...

کیلو برنج و پنج لیتر روغن است و این کمک‌ها پس از غور به ولایات بلخ، کابل، نورستان و ننگرهار هم توزیع می‌شود که ۶۰ هزار بسته است.» مسئولان ریاست مهاجرین و عودت کننده‌گان غور از توزیع این کمک‌ها قدردانی می‌کنند و می‌گویند که بسته‌های غذایی برای دو هزار خانواده نیازمند در این ولایت توزیع می‌شود.

د اوبو رسولو پروژې ...

شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې په دې کتنه کې د لغمان والي، په دغه ولایت کې د څښاک اوبو رسولو په برخه کې د راستنېدونکو هېوادوالو شته ستونزې شریکې کړې.
دغه راز د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزیر ویلي چې دغه وزارت د پروژو پلي کولو پر مهال، لومړیتوبونه په پام کې نیسي او د متوازن انکشاف له مخې کار کوي. ده زیاته کړې: «دا زموږ مسئولیت دی، چې د راستنو شویو هېوادوالو لپاره د اوبو رسولو پروژې پلې کړو او د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت به له خپلو شته امکاناتو سره سم د کډوالو ستونزو ته رسېدنه وکړي.»

افغانستان کې د امریکا ...

د دغې محکمې پر یو شمېر قاضیانو په بندیزونو لګولو سره له خپلو قانوني صلاحیتونو ناوړه ګټه اخلي. په ورته مهال ټرمپ دغه شکایت ته په غبرګون کې ویلي: امریکا او اسرائیل د جرمونو د نړیوالې محمکې غړیتوب نه لري او دغه بنسټ د یادو هېوادونو د چارواکو او وګړو پر ضد د حکم صادرولو صلاحیت نه لري. له دې وړاندې د ټرمپ حکومت د دغې محکمې پر یو شمېر غړو سفري بندیزونه لګولي وو او د هغوی شتمنۍ یې کنګل کړې دي.

د روان کال په لومړۍ ربع...

او د ۱۲۱ ښځینه‌وو په ګډون ۳۹۹۲ نور له هېواده وتلي دي. بله خوا، د ثبت شویو ارقامو له مخې ۴۵۰۳ کسان د ځمکنیو بندرونو او ۶۵ تنه نور د هوا له لارې هېواد ته راغلي، چې له دې ډلې یې ۶۰۹ تنه د هېواد د لرغونو او تاریخي سیمو د لیدنې او پاتې نور یې د کار په موخه راغلي دي. د دې ادارې د ثبت شویو ارقامو پر بنسټ، له ټولو ډېر بهرني وګړي ۲۷۱۸ تنه د نیمروز بندر او ورپسې ۱۴۶۲ تنه نور د هرات ولایت د ځمکنیو بندرونو او د هرات هوایي ډګر، ۲۶۴ تنه د فاریاب اقینې بندر، ۶۲ تنه د بدخشان د اشکاشم بندر او پاتې نور یې د حیرتان بندر او د بلخ هوایي ډګر له لارې هېواد ته راغلي دي.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly , Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ويب سایت:

شريعت
د امارتي ورځپاڼو رئيس:
انجنير عُزير بريالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدير: محمد منير فاروقي / ۰۷۶۴۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفيع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډيزاين: محمديوسف حيدري / ۰۷۹۴۹۸۹۶۹۸
د شريعت برښنا ليک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحيه، د المپيک څلور لارې، د حضوري چمن ختيځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزيع و شکايات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶ /۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Sunday 28 June 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1092

کابل کې ۵۱ جريبه ځمکه د کور او ښار جوړولو وزارت ته ولېږدول شوه

د اسلامي امارت د زعيم عاليقدر امير المؤمنين «حفظه الله» د حکم په اساس، د استوګنيزو پروژو د تطبيق او خلکو ته د اسانتياوو برابرولو په موخه ۵۱ جريبه ځمکه په کابل کې د کور او ښار جوړولو وزارت ته ولېږدول شوه.

د کور او ښار جوړولو وزارت، د حقوقي اعتبار ورکولو رياست ويلي: ياده ځمکه دوه قطعې ده، چې ۹ جريبه ځمکه يې د کابل په دهسبز ولسوالۍ کې او ۴۲ جريبه نوره ځمکه په بګراميو ولسوالۍ کې موقعيت لري.

د ځمکو د انتقال دغه رسمي بهير، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د اراضي لوی رياست له لوري د کور او ښار جوړولو وزارت ته د استوګنيزو او ښاري پراختيايي پروژو د پلي کېدو په موخه، ...۳مخ

له شباشک کان څخه د ورځې ۳۰۰ ټنه د ډبرو سکاره استخراجېږي

د امارتي شرکتونو عمومي رياست ويلي، چې د شمال د ډبرو سکرو امارتي شرکت اړوند شباشک کان څخه هره ورځ له ۲۰۰ تر ۳۰۰ ټنو پورې د لوړ کيفيت ډبروسکاره توليد او استخراجېږي.

د ياد رياست په وينا، شاکول، جيحون او قرمل کانونه هم د همدې شرکت د فعاليتونو برخه دي. مسئولين وايي: له دغو کانونو اېستل کېدونکي ډبروسکاره له ۶۰۰۰ تر ۶۵۰۰ کيلوکالورۍ پورې حرارتي ارزښت لري.

دوی زياتوي چې دغه سکاره د قوي تودوخې او اوږدمهاله سوځېدو ځانګړتيا لري. د مسئولينو په خبره، د سکرو منظمه عرضه د کورني بازار اړتياوې پوره کوي او د هېواد له اقتصادي ودې سره مرسته کوي.

د کليو د بيارغونې او پراختيا وزير:

د اوبو رسولو پروژې د متوازن انکشاف له مخې پلي کېږي

د افغانستان د اسلامي امارت د کليو د بيارغونې او پراختيا وزير ملا عبداللطيف منصور، د لغمان له والي قاري بختيار معاذ سره کتلي دي. د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت په خپره...۳مخ

کار ساخت سرک حلقوی ولایت سرپل به سرعت ادامه دارد

کار اعمار و ساختمان سرک حلقوی ولایت سرپل به شدت جریان دارد، این پروژه به طول ۱۲.۵ کیلومتر میان وزارت فوایدعامه و یکی از شرکت های ساختمانی و سرک‌سازی به ارزش بیش از یک میلیارد افغانی قرارداد شده و قرار است در سال ۱۴۰۷ هـ.ش تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شود.

سرک متذکره از ساحه فیض‌آباد در مسیر سرپل-شبرغان آغاز و در منطقه آسیاب به مسیر سرپل-سانچارک وصل می‌گردد. عرض مجموعی سرک ۲۱ متر بوده و شامل گلدان وسط، دو خط رفت‌وآمد، جویچه‌های کناری و پیاده‌روها می‌باشد. همچنان در امتداد این مسیر، اعمار ۶۵ پایه پلچک نیز شامل پروژه است.

این سرک یکی از پروژه‌های مهم زیربنایی ولایت سرپل بوده که با تکمیل آن، سهولت در رفت‌وآمد، کاهش ازدحام ترافیکی، بهبود اتصال مسیرهای مواصلاتی و رشد اقتصادی فراهم خواهد شد.

وزير محمد اکبر خان روغتون ته ګڼ شمېر طبي وسايل پېرودل شوي

شريعت: د وزير محمد اکبر خان روغتون رئيس، ډاکټر عنايت الله عنايت، شريعت ورځپاڼې ته ويلي: «ياد روغتون يو ثالثي او تخصصي روغتون دی، چې هېوادوالو ته د ارتوپيډي او تروماتولوژۍ، عمومي جراحۍ او عمومي داخلې په څانګو کې ۲۴ ساعته روغتيايي خدمتونه وړاندې کوي.» نوموړي وويل: «دا مهال په روغتون کې ۲۳۰ بستره فعال دي، چې ۱۳۶ يې د ارتوپيډۍ، ۳۷ يې د عمومي جراحۍ او ۱۰ بستره يې د جدي مراقبت لپاره ځانګړې شوې دي.» د ده په وينا: «په ۲۴ ساعتونو کې شاوخوا ۶۰ لوی او ۱۰۰ کوچني عملياتونه ترسره کېږي.» نوموړي زياته کړه، چې په تېرو څو اوونيو کې د روغتون لپاره ګڼ شمېر نوي وسايل او ماشينونه برابر شوي دي. د عاجلو پېښو څانګه په اړينو تجهيزاتو سمباله شوې او د عملياتخانې د اړتيا وړ وسايل، طبي سامانآلات او ماشينونه ترميم او پېرودل شوي دي.» ۳مخ

کار یک پروژه بزرگ انکشاف شهری با هزینه ۱۶ میلیون افغانی در هرات آغاز شد

در شهر هرات کار ساخت ۲۱ کیلومتر بلوار جدید در نواحی مختلف این شهر رسماً آغاز شده است. این پروژه از بودجه انکشافی شهرداری هرات تمویل می‌شود و هزینه مجموعی آن نزدیک به ۱۶ میلیون افغانی برآورد شده است. مسئولان شهرداری می‌گویند: هدف از اجرای این پروژه، بهبود سیمای شهری، تنظیم بهتر جریان ترافیک، افزایش مصونیت عابران پیاده و فراهم‌سازی سهولت‌های بیشتر برای شهروندان است. بر اساس معلومات ارائه‌شده، این پروژه در بخش‌های مختلف شهر هرات تطبیق می‌گردد و قرار است طی بیش از سه ماه تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شود. مسئولان تأکید می‌کنند که در جریان کار، معیارهای تخنیکی و نیازهای شهری به‌گونه جدی در نظر گرفته خواهد شد تا پروژه به شکل معیاری و اصولی اجراء گردد. ص۳

بغلان کې د بورې توليد د زياتولو لپاره پر ۴۵۰ جريبه ځمکه لبلبو کرل کېږي

د بغلان د بورې فابريکې مسئولينو خبر ورکړی، چې سږ کال يې د لومړي ځل لپاره په ۴۵۰ جريبه ځمکه د لبلبو کښت پيل کړی، ترڅو د بورې د توليد لپاره د اړتيا وړ خامو موادو يوه برخه په کور دننه توليد او برابره کړي.

د فابريکې د مسئولينو په وينا، د لبلبو د کښت پراختيا به د کورنۍ بورې د توليد د زياتوالي ترڅنګ د وارداتو د کچې په راکمولو کې هم مرسته وکړي.

مسئولين زياتوي چې دغه نوښت د سيمې د کرنيز سکتور د پياوړتيا ترڅنګ د لسګونو کسانو... ۳مخ

له اشغال شوي فلسطين څخه د صهيونستانو د وتلو بهير د پام وړ چټک شوی

د صهيونيستي رژيم پارلمان کې د څېړنو مرکز تازه راپور ښيي، چې له اشغال شوي فلسطين څخه د صهيونستاتو د وتلو يا «معکوسې کډوالۍ» کچه په بې‌ساري ډول لوړه شوې ده. د راپورونو له مخې، د غزې جګړې، کورني سياسي بحران او د راتلونکي په اړه د باورد کمېدو له امله صهيونستان اړ شوي چې اشغال شوی فلسطين پرېږدي. راپور کې ويل شوي: د دغو کسانو په ډله کې ډاکټران، انجنيران او د ټکنالوجۍ برخې متخصصين هم شامل دي. د شمېرو له مخې، د ۲۰۰۹ او ۲۰۲۱ کلونو ترمنځ هر کال په اوسط ډول ۴۰ زره او ۵۰۰ کسان، په ۲۰۲۲ کال کې ۵۹ زره او ۴۰۰ کسان، په ۲۰۲۳ کال کې ۸۲ زره او ۸۰۰ کسان او په ۲۰۲۴ کال کې ۶۹ زره او ۵۰۰ کسان له اشغال شوي فلسطين څخه وتلي دي.

اسرائیل بخشی از نیروهای خود را از لبنان خارج می کند

شماری از رسانه‌های خارجی خبر داده‌اند که ارتش اسرائیل بر اساس توافقی که روز جمعه میان اسرائیل و لبنان امضاء شد بخشی از نیروهای خود را از جنوب لبنان خارج خواهد کرد. رژیم اسرائیل و لبنان روز گذشته با میانجی‌گری امریکا توافقی را امضاء کردند که راه را برای دستیابی به آتش‌بس در جبهه لبنان هموار می‌کند. در همین حال نعیم قاسم، رهبر گروه حزب‌الله لبنان تأکید کرده که این گروه هیچ‌گونه عادی‌سازی روابط با اسرائیل را نمی‌پذیرد و هیچ امتیازی برای اسرائیل قائل نیست. او خواستار خروج بی‌قید و شرط نیروهای اشغالگر اسرائیل از لبنان شده است.

ايران په سيمه کې د امريکايي ځواکونو پر مېشت ځالو بريد کړی

ايراني رسنيو راپور ورکړی، چې د ياد هېواد سمندري ځواکونو په سيمه کې د امريکايي ځواکونو پر مېشت ځايونو بريد کړی. د راپور پر اساس، دا بريد د لبنان په جنوب کې د اسرائيلو له لوري د اوربند د نقض او د ايران پر سمندري سواحلو د امريکا د بريد په غبرګون کې ترسره شوی. دا په داسې حال کې ده، چې د امريکا مرکزي قوماندانۍ (سينټکام) هم اعلان کړی، چې د خپلو بريدونو په ترڅ کې يې د ايران د توغنديو او بې‌پيلوټه الوتکو د زېرمه کولو مرکزونه او همدارنګه د ايران ساحلي راداري تاسيسات په نښه کړي دي. د سينټکام په وينا، دغه اقدام د ايران له لوري پر «اور لاولي» بارورونکې کښتۍ، چې د سنګاپور بيرغ يې درلود، د بريد په غبرګون کې ترسره شوی دی.

روسيې او اوکراين يو ځل بيا ۳۲۰ تنه جنګي اسيران تبادله کړل

روسيې او اوکراين ورمه ورځ يو ځل بيا ۳۲۰ تنه جنګي اسيران تبادله کړي دي. د روسيې د دفاع وزارت په يوه اعلاميه کې ويلي: د هېواد ۱۶۰ جنګي اسيران په همدې ورځ د اوکراين له کنټرولوونکې سيمې څخه بېرته لېږدول شوي او اوکراين ته يې هم ۱۶۰ اسيران سپارلي دي. متحده عربي اماراتو د اسيرانو په دغې تبادله کې منځګړيتوب کړی دی. د معلوماتو له مخې، تر اوسه پورې د اوکرايني ځواکونو ۹۶۰۶ اسيران د روسيې له خوا خوشې شوي دي.